مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکونکي اوراټولوونکی: Brüder Grimm
۲۰۱۹/۱۰/۱۵

ژباړن: رڼاګل اریوبزی

# داغزیو ګلاب

## (د کوچنیانو له پاره لنډه کیسه)

په ډیرو پخوانیو وختو کې یو پاچا او یوه ملکه ول، دوی به هره ورځ ویل چې کاشکې موږ یو اولاد درلودلی، خو دا هیله یی هیڅ نه پوره کیدله. یووارملکه د لمبیدو په تشناب کې ناسته وه چې یو چنګښ د اوبو څخه راووت او ورته یې وویل:«ستا هیله به تر سره شی او یوه جلکی به دنیا ته راوړی.» څه چې چونګښ ویلي و هغسې و شول. د ملکې یوه لور پیدا شوه. دا دومره ښائیسته وه چې پاچا له ډیری خوشالی په جامو کې نه ځا یېده او یو لوی جشن یې جوړ کړ. ده دي جشن ته نه یوازې خپل خپلوان، دوستان او یاران راوبلل، بلکې د جلکۍ د ښکلا او متوازنی ودی په هیله یې پوهو ښځو ته هم بلنه ورکړه. د ده په پاچاهۍ کې داسې هوښیارې ښځی۱۳ تنه وې، خو ده دې ډول هوښیارو ښځو ته د ډوډی د ورکولو لپاره یوازې ۱۲ د سروزرو پشقابونه درلودل،
نوځکه یوه ښځه باید په کور کې پاته شوې وی. رابلل شوې ښځې راغلې وې، او کله چې جشن پای ته ورسید، کوچنۍ ته یې معجزاتي دعا ګانې ور ډالی کړې: یوې ورته ښه اخلاق، بلې ښکلا، دریمې ورته ډیر شته، په همدې ډول ټولو ورته په نړی کې د تر ټولو ښو شیانو دعا ډالۍ کړې. کله چې ۱۱ ښځو خپلې هیلې څر ګندې کړې، دیارلسمه راغله. دې غوښتل چې دنه را بلل کېدو غچ واخلي. بې له دې چې دچاسره سترګې مشې وکړي اويا چاته مخ ورواړوي، په لوړ آواز یې ناره کړه چې:« دپاچالور دې په ۱۵کلنۍ کې دځرخک په تیره څوکه داسې خوږشي چې ترې مړه شي.» ددې ټکو له ویلو وروسته بیر ته را ګرځیده او له سالون نه ووتله، په دې وخت کې دې نورو دوولس ښځو، چې دهرې یوې یوه یوه دعا لا پاتې وه، خو نشوای کولی چې دهغې ښځې دښیرو اغیزې له سره شنډې کړي، بلکې یوازې یې تر یوې اندازې کمولی شوی، نو ویې ویل:«مرګ دې نه وي،دپاچا لور دې په سل کلن ژور خوب ویده شي.» پاچا غوښتل چې خپله ګرانه لور له بد مرغۍ وژغوري، پدې خاطرېې حکم وکړ چې په ټول سلطنت کې دې داوبدلو سپرخي له منځه یوړل شي. کوچنۍ نجلۍ ته دهوښیارو ښځو ټولې دعاوې وروسیدې. دغه نجلۍ ریښتیا هم ډیره ښائسته، با ادبه، خوش اخلاقه او ځیرکه وه. هر چا چې به لیدله، داښکلې جلۍ پر ګرانید له. داسې پیښه شوه چې په هغه ورځ چې دا پنځلس کلنه شوه، پاچا او ملکه په کور کې نه وو، جلۍ په قصرکې یوازې پاتې وه. دا په ټولولویو اووړو کو ټو کې ، چیرې چې د دې زړه غوښتل وګرزید له. اخر
یوه زاړه برج ته ورسیده. په دغه برج کې یوه تنګه زینه پورته ختلې وه، چې په سر کې یوې وړوکې دروازې ته رسیده. د دروازې په کولپ(قفل)کې یوه زنګ وهلې کلي وه، کله چې جلکۍ دا کلي تاو کړه، دروازه خلاصه شوه، چې ګوري په یوه کوچنۍ کوټه کې یوه زړه بو ډۍ ناسته ده او اوبدل کوي. جلکۍ ترې وپوښتل چې،« ای زړې مورکۍ! ته دلته په څه لګیا یې ؟»بوډۍ ورته وویل:«زه دلته اوبدل کوم،»او سرېې ښکته کړ.جلکۍ وویل چې،«دا شی څه په مستۍ او مزه هره خوا ټو پونه وهي!» دې سپرخۍ په لاس کې واخیست او غوښتل یې چې اوبدل وکړي.
خو په همدی شیبې کې چې دې سپرخي ته لاس ورنږدی کړ، دهغې ښځې دجادوښیرې په ولګیدې ، سپرخۍ یې په ګوته را وځرخید او جلکۍ یې خوږ کړه. کله چې په زخم پوه شوه، په همدې شیبې کې بیځانه شوه ، په ځمکه پریوته اوپه ژور خوب ویده شوه. داخوب په ټول قصر کې خپورشو: پاچا او ملکه چې تازه قصر ته را ورسیدل دټولو در باریانو سره په ژورخوب ویده شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

آسان هم په غوجل کې، سپی په سرای کې، کوترې پر بامو، مچان پر دیوالو ویده شول، د اور لمبې، چې تر بخاری راوتې، ختم شوې، دیګ خوټیدل بند کړ. آشپزچې خپل شا ګرد یې تر وریښتانونیولی و، ځکه چې یو څه غلطي یې کړې وه، نو هغه یې پریښود او ویده شو. باد ودرېده، دقصر و مخ ته ونې ساکتې شوې او پاڼې یې نه ښوریدلې. دقصر ګرد چاپیره داغزو ویاړه را وخوټیده چې ورځ په ورځ لوېیده او لوړیده. دا ویاړه تر ټول قصر راچاپیره شوه او دومره جګه شوه، چې دقصر په بام ولاړ بیرغونه هم نور نشو لیدل کېدای. خو د اغزیو ګلاب اوازه، چې په سل کلن ژور خوب ویده وه، هرې خواته خپره شوی وه: داغزیو ګلا ب د پاچا ددی ښکلې لور نوم و، نوځکه به وخت په وخت دپاچا هانو زامن راتلل او غوښتل یې چې تر ویاړې تیرشي او قصر ته ځان ورسوي، خو دا کار ممکن نه و،ځکه دویاړې ښاښونو دلاسو په څیرد دوی مخه نیوله، دا ځلمیان په اغزو کې بند پاتې کېدل او په له رنځه ډک مرګ مړه کېدل . ډیر کلونه وروسته یوځل بیا دپاچا زوی دې ځای ته راغی او یوه زاړه سړی داغزیوګلاب کېسه ورته بیان کړه. بوډا ور ته وویل چې ددې ویاړې تر شا یو قصر دی، په دې قصر کې دپاچا یوه ډیره ښکلې لور،چې نوم یې داغزیو ګلاب دی، ویده ده اوټول درباریان هم په قصر کې ورسره ویده دي. دپاچازوی دخپل نیکه څخه هم اوریدلي وچې دډیرو پاچا هانو زامنو هڅې وکړې چې داغزو تر ویاړی تیرشی، خو ټول داغزو په منځ کې بند پاتې شول او ډیرپه تکلیف مړه شول. دپاچا زوی وویل:«زه له دې نه ویرېږم،غواړم چې تر ویاړې تیر شم،او دا ښکلې داغزیو ګلاب ووینم.» بوډا که هرڅومره هڅه وکړه چې مخه یې ونیسی، خو دپاچا زوی غوږ ورته ونه نیو.د پاچاد زوی دراتګ په ورځ هغه سل کالونه هم تیر شول. کله چې دې ویاړی ته ور نږدی شو، نو یې ښکلي ګلونه ولیدل، چې یو له بله لیری شول، اولار یې ورکړه، تر دی وروسته بیا د ویاړې په څیر سره نږدی شول. دپاچا زوی قصر ته ور ننوت او ویني چې آسونه او ښکاری سپي په سرای کې ویده پراته دی، کوترې په بام ناستی وې او سرونه یې تر وزرو لاندی پټ کړي وو.

کله چې کور ته راورسید، ویني چې مچان پر دیوالو ویده دي، په اشپزخانه کې آشپز اوس هم لاس داسې نیولی و، لکه چې غوښتل یې چې هلک له ویښتو ونیسی، نوکره دتور چرګ سره،چې غوښتل یې له بڼکو یې پاک کړي، ناسته وه. دی وړاندی لاړ اوویې لیدل چې په سالون کې ټول در باریان ویده پراته دي او هلته پاس پر تخت پاچا او ملکه پرا ته وو. دی نورهم وړاندی لاړ، هرې خوا داسې آرامي وه چې سړي د یوچا تنفس هم اوریدلی شواو په پای کې برج ته را ورسید، اود هغې کوچنی کوټی دروازه یې خلاصه کړه ،چې داغزیو ګلاب پکې ویده وه. دا هلته پرته وه او داسې ښایسته وه چې د پاچازوی یې په لید و نه موړیده، ورو ور ټیټ شو اوښکل یې کړه. کله چې یې شونډ ې ددې شونډوته ورنږدی شوی، داغزیوګلاب ستر ګی وغړولی، رابیداره شوه او دپاچا زوی ته یې په مینه وکتل اوبیا دواړه یو ځائ راکښته شول، پاچا، ملکه او درباریا ن راویښ شول او یو بل ته یې په غټو سترګو وکتل. آسان په سرای کې سره وښوریدل، ښکاري سپي راوغورځیدل او لکۍ یې وښورولې، کوترو پر بامو د وزرو څخه سرونه راویستل، چار چاپیره یې وکتل او پالیز ته ورروالوتلی، پر دیوالو ناست مچان وخوځیدل ، په آشپز خانه کې د اور لمبی بیرته راپورته اود خواړو پخول بیرته پیل شول، د غوړوچڼا شروع شوه او آشپزد هلک پر غوږدا سی څپیړه ورحواله کړه،چې چېغه یې کړه، نوکرې چرګه له بڼکو پا که کړه، ورپسی دپاچا زوی سره د داغزیوګلاب دواده لوی او ښکلی جشن ونیول شو،او دواړوټول ژوند په ګډه نیکمرغی کې تیرکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ